## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

**دغه مقرره د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مقام د۱۳۹۷/۴/۴ نېټې د (۵۹۷) ګڼه لارښوونې مطابق د اساسي قانون د ۴۴ مادې او د پوهنې د قانون د ۹ او ۱۵ مادې د حکمونو پر بنسټ وضع شوې ده.**

**موخې**

**دوهمه ماده:**

**د هغه ماشومانو د تعلیم حق تأمینول چې د ژوند د ځانګړي طرز له امله (د سړو او تودو سیمو ترمنځ لېږد رالېږد) په هېواد کې له موجود تعلیمي سیستم څخه ګټه نه شي اخیستلای.**

## دوهم فصل

## د کوچیانو ښوونځی

**د کوچیانو د ښوونځیو ډولونه**

**دریمه ماده:**

**د کوچیانو ښوونځي شرایطو ته په پام سره لاندې ډولونه لري:**

**(۱) په یوه مېنه کې ثابت ښوونځی: دغه ډول ښوونځی د کوچیانو د ژمي یا اوړي په مېنه کې ترجیحاً په هغه مېنه کې چې د کوچیانو کورنۍ یوبل ته نیژدې ژوند کوي ښوونیز فعالیت کوي.**

**(۲) په دوو مېنو کې ثابت ښوونځی: دغه ډول ښوونځی د ښوونیز کال لومړۍ نیمایي برخه د ژمي په مېنه کې پای ته رسوي د څلورنیم میاشتنیو آزموینو له تېرولو وروسته زدکوونکي او ښوونکي د رخصتیو پر مهال د اوړي مېنې ته کوچېږي او د ښوونیز کال دوهمه نیمایي برخه په سړو سیمو کې ښوونیز فعالیت کوي.**

**(۳) ګرځنده ښوونځی: دغه ډول ښوونځی له ښوونځي دمخه ټولګی، لومړی، دوهم او دریم ټولګي او د نجونو لپاره تر شپږم پورې ټولګي لري چې د کوچیانو له کډو سره یو ځای کوچ کوي.**

**(۴) غیرحضوري ښوونځی: په دغه ښوونځي کې کوچي زدکوونکي ثبت دي، په ټولګي کې د زدکوونکو حضور شرط نه دی، ښوونځی زدکوونکو ته درسي توکي ورکوي او د هغوی درسي ستونزې په حضوري یا آنلاین توګه حلوي د زدکړې ارزونه کوي او له زدکوونکو آزموینې اخلي.**

(۵) د دې مادې په لومړۍ او دوهمه فقره کې مندرج ښوونځي د دولت له مالي امکاناتو سره سم د ليليې له آسانتياوو څخه برخمن کېږي.

## دريم فصل

## ښوونيز کال

**څلورمه ماده:**

(۱) په يوه مېنه کې د ثابتو ښونځيو ښوونيز کال د اړوند ولايت د ښوونيز کال تابع دی.

(۲) په دوو مېنو کې د ثابتو ښوونځيو ښوونيز کال په توده سيمه کې د مرغومي د مياشتې په لومړۍ نېټه پيلېږي او د غويي د مياشتې په ۱۵ نېټه يې څلورنيم مياشتنۍ آزموينې پای ته رسېږي.

(۳) کله چې څلورنيم مياشتنۍ آزموينې پای ته ورسېږي، زدکوونکي يوه نيمه مياشت رخصتېږي او په خپلو کورنيو پسې سړو سيمو ته ځي.

(۴) د ښوونيز کال دوهمه نيمايي برخه په سړو سيمو کې د چنگاښ په لومړۍ نېټه پيل او کلنۍ آزموينې يې د لړم په ۱۵نېټه پای ته رسېږي.

(۵) کله چې کلنۍ آزموينې پای ته ورسېږي زدکوونکي يوه نيمه مياشت رخصتېږي او په خپلو کورنيو پسې تودو سيمو ته ځي.

(٦) د گرځنده ښوونځيو ښوونيز کال په دوو مېنو کې د ثابتو ښوونځيو سره مطابق دی.

## څلورم فصل

## د کوچيانو د ښوونې او روزنې په هکله د پوهنې وزارت دندې

<u>د ښوونځيو تأسيس</u>

**پنځمه ماده:**

(۱) د پوهنې وزارت د هېواد په ټولو هغو سيمو کې چې کوچيان د اوړي او ژمي مېنې لري په يوه مېنه کې ثابت، په دوو مېنو کې ثابت او گرځنده ښوونځي تأسيس او په درسي توکو سمبالوي.

(۲) په يوه مېنه کې ثابت ښوونځی د پوهنې وزارت د نورو ښوونځيو د تأسيس د معيار (نفوس او فاصلې) په رعايتولو سره تأسيسېږي.

(۳) په دوو مېنو کې د ثابت ښوونځي او گرځنده ښوونځي په تأسيس کې د فاصلې معيار په پام کې نه نيول کېږي، نوموړي ښوونځي د يوه ټولگي په لرلو سره چې پنځه زدکوونکي ولري تأسيس کېدای شي.

(۴) په ټولګي کې د زدکوونکو حد اکثر شمېر د پوهنې وزارت د نورو عادي ښوونځیو مطابق دی او لــږ شــمېر  یــې پنځـه کسه دی.

ښوونیز نصاب

شپږمه ماده:

(۱) د کوچیانو په ښوونځیو کې د پوهنې د نورو ښوونځیو په څېر واحد ښوونیز نصاب تدریسېږي.

(۲) د کوچیانو په ښوونځیو کې د واحد ښوونیز نصاب په څنګ کې د کوچي ژوند، فرهنګ او د هغوی د کار او چاپېریال په هکله د ځانګړو موضوعاتو لرونکی مضمون هم تدریسېږي.

ښوونیزه څارنه

اوومه ماده:

د کوچیانو په ښوونځیو کې ښوونیزې چارې د پوهنې وزارت د ښوونیزې څارنې د ریاست له لوري څارل او ارزول کېږي.

اداره

اتمه ماده:

(۱) د کوچیانو د ښوونې او روزنې لپاره ټول هېواد واحده حوزه بلل کېږي چې د عمومي ښوونو د معینیت په چوکاټ کې د اړوند ریاست له لوري یې چارې پرمخ وړل کېږي.

(۲) د دې مادې په لومړۍ فقره کې راغلی ریاست به د ولایتونو د پوهنې ریاست سره معادل او ورته تشکیلات به لري.

د چارو تنظیمول

نهمه ماده:

د کوچیانو په ښوونه او روزنه پورې اړوندې ټولې چارې د پوهنې د اړوندو تقنیني سندونو مطابق تنظیمېږي.

انفاذ

لسمه ماده:

دغه مقرره په دریو فصلونو او لسو ماده کې وضع شوې ده د کابینې له تصویب او د ولسمشر له توشېح وروسته نافذېږي.

## د ښونیز کال ښود

